عبدالاحد سرتیب ۲۰۱۴/۰۵/۲۰

# پخوانی جرګې که اوسنی مدني ټولني؟

د افغانستان خلک داسې عادت لري چې هرنوي نوم ورته ډېرخوندور وي خصوصاً د تقلید په برخه کې ډېرزیاته علاقه لري اوهرنوي حرکت ته ډېرخوشحاله وي، د بده مرغه خپلو فرهنګي ارزښتونوته دومره اهمیت نه ورکوي لکه دېردونه راغلي تقلید ته، کله چې روسان افغانستان ته راغلل نوطرف دارانویې دا کوښښ کاوه چې د شپونه نیولې بیا ترکالو، خوراکو، ناستې ولاړی حتی د روسانوپه شان مجلسونه جوړول هغسې لوښې کارول، ځنې لغات اوالفاظ استعمالول په ډېرو ښاري اوسېدونکو خصوصاً کابل کې ډېررواج وو مثلاً په ډېرو مظاهرو، او مهمو مجلسو کې د(حورا) چغه وهل داسې یوه پېښه (تقلید) وچې د رسانو د وفاداری ښکارندویې یې کوله. همداسې دودو، ولور، د خلکو د شخصي ملکیت او د یوې کورنی په کورنیوچاروکې یې هم لاس وهنه کول اوهڅه یې کاوه چې کورنی اړیکې هم د رسانوپه شان واړوي، خو دوي په دې نه پوهېده چې د افغانستان خلک دامنې چې یو کار یا یو رواج اوعادت په زور پر ولس وتپي خو پخپله خوښه دی ژر تلقید یا پیښې ومني. یا کله چې مجاهدین راپیدا سوه ډېرو قوماندانوخپلی لنګوټې، کالي اوڅپلې استعمالولې، په خبرو او مجلسو کې یې هم کوښښ کاوه داسې خبرې وکړي چې د ده مشرتوب رهبریې کولې، کله چې طالبان راغله نوملګرویې هم د هغو تقلید کاوه، کله چې د ناټو قواوي افغانستان ته راغلې نو هغه افغانان چې د جهاد په وخت او یا د مجاهدینو او طالبان په وخت غربي هېوادوته یا د امنیت د خرابوالي او یا سیاسي عقیدې په اساس مهاجرسوی وه یا پخپله یایې زامن او لوڼې او د کورنی نورغړي یې افغانستان ته راغله او ډېرموډونه اوفیشنونه اوځنې نوی داسې شیان د ځان سره راوړه چې په افغانانوکې ېې پخواسابقه نه درلوده. داسې بېلګې ډېرې دی خو موږیې په دې مقاله کې نه سو راټولولای. غواړم دلته یوې ولسي کارو ته پام را اړوم چې هغه زموږ پخوانی محلی جرګې او یا د جوړو روغو د پاره ولسي غونډې درلودې، چې اکثره مدنی اوځینوحقوقي ستونځې اواختلافات حل کېده که دا مخالفتونه اوشخړې د خلکو ترمنځ وې اویا د خلکو او دولت په منځ کې یې وجود درلود.

شهید سردارمحمد داودخان په کنړ او خوست ولایاتو کې د دې جرګو بنسټ کښېښودی او ولسوالانوته یې هدایت ورکړي وه چې ساده حقوقي دعوې دغه ولسي جرګو ته حواله کې او د هغو فیصلوته رسمي بڼه ورکې، د هغه د شهادت سره نوري کېسی راوټوکېدې، دا جرګې اکثره د داسې باتجربه، ولسي، مشرانو، دیني عالمانو اوقومي مشرانو لخواترسره کېدې په خاص ډول هغه کسانو چې خپله فیصله یې په ولس منلای سوای په خپل قوم کې به یې هم نفوذ درلود اوهم یې خوله او ژبه درلودی حق یې په حقدار رساوه، کله ناکله به داسی هم کېده چې د دوکسانو ترمنځ به یوه ستونځه نه حل کېده او پر به حق ته غاړه نه ایښوده. جرګې به هغه دولت ته معرفی کاوه چې ملامت څوک دی او پر حق څوک دی؟ په حقیقت کې د خدای بخښلی پوهاند رسول امین د قوله چې کله ما د دغه څېړنه وکړه نه یوازې ډېره ښه نتیجه یې ورکړی وه بلکه د دولتی عدلي ارګانو باریې ډېرسپک کړي و. د امریکا د راتګ سره په ښارو کې د مدنی ټولنو په نامه دومره دوکانونه جوړسوی دي چې حساب یې یوازې دعدلي زوزارت ته مالوم دی زما په خیال به ترڅلور زره زیاتې مدني ټولني راجستروي، هغه تراوسه موږن ه دې اوریدلي چې یا د دوو قامونو ترمنځ شخړې حل کړی دې او یا یې د دولت او خلکو تر منځ کوم د پاملرني وړ کار کړي وي کله چې دولت د ټولټاکنوکمیشران ټاکل د ټاکلو په کمېسون کې دوه غړي د مدني ټولنووه چې دا ټولي ونه توانېدې چې دې کمېسونه ته نفر ور وپیژني داسې مالومېږي چې دا ټولني ټولي د دوکانداری او موډ د پاره جوړې سوی دي.

## د ولسي او محلي جرګو ښې ګڼې او تاوانونه

لمړی: لومړی ګټه خویې داده چې په افغانستان کې زموږ د دولت د افغانستان پر ټولو برخو تسلط نه لري عدلي ارګانونه په سرحدي ولسوالیو کې یاشتون نه لری او یایې د خلګو په منځ کې د فساد او رشوت په خاطر اعتبار او باو رد لاسه ورکړی دی یا تراوسه لا هلته د توپک سیوری غوړیدلي دی .اکثریت خلک یا طالبانو ته یا جرګوته مراجعه کوي خو د جرګو فیصلې ډېرې چابکې اونسبت د دولت ومامورینو ته عادلانه دی، ځکه د محل خلکوته حقدار نا حقدار نسبت ښه ورمعلوم دی نظروهغه قاضیانو او څارنوالانو ته چې د نورو ولایاتو راغلي وي،


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

دوبیم: دوهمه ګټه یې داده چې د جرګو د لاري د شخړو حلول په لنډه موده کی د دولتي مراحلو او کاغذپرانی نه پرته .
دریم: ګټه یې داده چې د جرګو فیصلې د شخړو ریښې د منځه وړي د مخالفو دواړو خواو قناعت حاصلوي او د جوړي او روغي دلاري پرېکړي کوي. د فیصلې ترشاه خوابدې او مدعا نه پاتی کیږي خو برعکس دولت چې دهرې غاړي په ګټه فیصله وکړی مقابل طرف یې نه مني عقده او مدعایې راتلونکې ته پاته کیږي مقابل خوا بیا بل وخت او د بلې لاري د خپل انتقام انتظارباسي .
څلورم: ګټه یې داده چې د دولت پرعدلي ارګانو کارسپکوي چې وکولای سي ډیرو مهمو یا جزایي قضیوته په اساني رسیده ګي وسي . یا په لنډ ډول پرهغوي کارکمیږي.
پنځم: ګټه یې داده چې د واسطو او رشوت کچه راکمیږي خلک د سرګردانی اوکاغذپرانی څخه فارغه کیږي
شپږم: ګټه یې داده چې په ټولنه کې ډیرپراخه بې اتفاقي د منځه وړي .
اوم: ګټه یې داده چې دامنیت په ټنګولو کې مرسته کوي دولت مخالفین کمزوری کوي.
لنډه داچې دا جرګې په حقیقت کې د افغانستان ډیرښکلي مدني ټولني دي چې هم د دولت سره مرسته کولای سي اوهم د ملت سره .
اتم: ګټه یې داده چې دا جرګې رئیس، مرستیالان، او د هرڅانګې رئیسان نه لري ډیر ساده تشکیلات لري هرڅوک چې رښتیاوایی هغه پرټولو ګران وي .
نهمه: ګټه یې داده چې زموږ پخوانی جرګې د وارد سوو مدني ټولنو په شان دفتر، مامورین، خارجي مرستي اوکش وفش کاغذ پرانی او د دولت ورسمیت ته ضرورت نه لري او نه د چا د خوا اکمالیږي ډیرو خاص تشریفاتوته ضرورت نلري بلکه هرمسجد شریف او د هرمشر ډیره یې هم دفتردی اوهم یې د فیصلې ځای دي. ولي برعکس اوسنی جوړي سوي مدني ټولني ډیرو وسایلوته ضرورت لري د اکثرو خلکو پوښتنه داده چې دا دومره مدني ټولني چې دادومره مصارف له کومه کوي؟
لسمه: ګټه د محلي جرګوداده چې نسبت وبل هر دولتي ارګان ته اقصادي تمامیږي.
تاوانونه یې دادی چې نه خارجیان او نه اکثره افغاني روشنفکران زموږ د دې اساسي او ملي فرهنګي او ټولنیزو بنسټونو سره یا اشنایي نه لري اویا یې د شخصي خود خواهي او یا نور په فرمایش پردي فشاراچوي چې باید عدلي ارګانونه اویا وارد سوي مدني ټولني دا شخړي حل وفصل کړي چې په موجوده شرایطو کې دا کارممکن نه دی، د بده مرغه دوي د افغانستان حساس جیوپولویتک اهمیت او فرهنګي پا شلوالی اوږدې درې، جګ غرونه، د بې سوادی اندازه، د ګاونډیانو لاس وهنی د خارجي اصطلاحاتو سره د افغانانو حساسیت او نوري خارجي نړی سره اجتماعي، فرهنګي او قومي ساختار او اقتصادي وروسته والی په نظرکې نه نیسي. که موږ د خپلو جرګو هغه اصلي جوړښت او ارزښت ته سم ځیرشو او یانوره نړی د دې اصل څخه سمه خبره کړواو یا د خپلی ټولني عیني او ذهني شرایط ورته سم تشریح کړو زه باورلرم چې بووخت به په اروپا او امریکا کې هم زموږمحلي جرګوته ورته ټولني د خپلوعدلي ارګانوپه چوکاټ کې ځای پرځای کړي.
دوهم: تاوان یې دادی چې زموږ پخوانی جرګې ځیني خارجي هېوادونه او یا روشنفکرنما کسان یو ورسته پاتی زوړ رواج بولي خوکه چیري د ټولوحقوقي قوانینو منابع ولټول سي دا زاړه رسم ورواج یی یو د اساسي منابعو څخه بلل کیږي او هر فرهنګ چې وده کوي زوړپه کلي ډول نه نفی کوي بلکه د مثبتو ټکو نه یې ګټه اخلی اومنفي تري لری کوي .
کله چې موږ ته د تاریخ په اړدوکې دومره ښې ټولینزی جرګې چې د هره لحاظه غني دی ولرو د دې تجارتي جوړښتونوته چې نه یې دا مالومیږی چې دا سیاسي تولني دي؟ استخباراتي ټولني دي؟او که د بل هدف د پاره ګمارل سویدي؟ کېداي سې ځیني یې استخباراتي چاري هم پرمخ بوزي بل غټ مشکل چې اوسنیومدني ټولنوجوړکړي دی هغه دادی چې هره مدني ټولنه یو رئیس، څومرستیالان، او هره څانګه یې جلا جلا آمریا رئیس لري لکه یوسیاسي ګوند چې یې لري چې دې کار د دې پرځای چې ټولنه سره راټوله کړي او یو واحد ملت تري جوړسي نورپې سره پاشي څنګه ممکینه ده چې موږ څلور زره رئیسان سره متحد کړای سو او دا ټول دیوه په ریاست قناعت وکړي اوسره متحد سي ، اوڅوک به ترکومه داټولني چې دکارنتیجه یې مالومه نده دوي ته معاش اووسایل ورکړي. خوهغه رول چې زموږ پخوانیو جرګو ادا کولای سو په هیڅ صورت یی دا وارد سوي مدني ټولني نه سې ادا کولای اصلا زموږ تاریخي او ملي مدني ټولني همدا محلی او ټولنیزی جرګې دي چې د تاریخ له مسیره بریالی راوتلي دي اودا زموږ د پلار او نیکه مدني ټولني دي چې موږ ته په میراث راپاتی دی نو بیا د داسي مدنی ټولنو چې د هغود کړو


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

وړو سره خلک آشنايي نه لري اونه هم ولسي تجربه لري څه ضرورت لری. زما هيله د راتلونکي دولت نه داده چې که غواړي د اداری فساد يو ديوال ونړوي او د رشوت اندازه کمه کړي بايد مدني حقوقی دعوي وداسې جرګوته وسپاري.البته په يوه تفاوت سره چې يوقانون پوه يا يو باتجربه کس چې پخوايې په عدلي ارګانوکې کارکړي وي هم ورګډ کړي .
د پردو فرهنګی يرغلونو اوس له افغانانو څخه بيخی لاره ورکه کړی ده. په پښتو کی يو متل دی چی وايی.(کارغه د زرکی تګ کاوه خپل يی هير کړو)

پای


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ